دمجاهدانو داسلامي ...

شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ (۱۰۷۱) سال هژدهم شمارهٔ (۱۵۸) سه شنبه ۱۰ دلو ۱۳۷٤ هـ .ش-(۱۰) رمضان المبارک ۱٤۱٦ هـ .ق-۳۰ جنوری ۱۹۹٦ م.

الهي لارښوونې

اى مؤمنانو ! كه له تاسى نه څوك له خپل دين نه واوړى (نو وادى وړى) الله به نوروړیر داسى خلك پيدا كړي چې الله ته گران وى او الله هغوى ته گران وى چې له مؤمنانوسره به نرمى كوى او پركافرانو سختى . چې د الله په لار كى به جدوجهد وكړى او دهيڅ ملامتونكى له پړى اچولونه ونه ويريږي - دا د الله فضل دى چاته يى چې خوښه شي ورپه برخه كوى يى - الله د پراخه وسايلو څښتن او په هرڅه پوهيږي ....(المائده - ٥٥)

ورور«حكمتيار» له تكبيراونيزى سره په مركه كى :

بايد ټول هغه څواكونه سره يو شي چې په هيواد كى دبهرني لاسوهنى مخالفت كوى

انتقالي حكومت په دټولوخواوو دمذاكراتوپه نتيجه كى جوړيږي او واك به ورته سپارل كيږي

دپاكستان په واكمنوحلقوكى دافغانستان په باب مختلف نظريات او ميلانونه دي

روسان غواړي زمونږ له مسلمان ملت نه دخپلى ماتى غچ واخلى

(۲)مخ

دكابل په سلگونو ښاريانو د ربانى دواكمنى خلاف مظاهره وكړه

مظاهره كوونكو دجگړې دبنديدوغوښتنه وكړه

كابل - دسلواغي ۹ مه :

پرون دكابل ښاردوړاكبرخان په سيمه كي په سلگونوښاريانودرباني داداري په خلاف مظاهره وكړه .

دكابل څخه راغلوعيني شاهدانوشهادت ته وويل چې مظاهره چيانودخپلي مظاهري په لړكي درباني په قدرت كي پاتي كيدل وغندل اوژوترژوره ئي د هغه داستعفي غوښتنه وكړه.

مظاهره چيانو له ټولوجهادي ډلوڅخه وغوښتل چې له يوبل سره يوځاي شي دافغانستان ستونزه دخبرواترولوه لاري حل وفصل كړي .

شاهدان وايي چې مظاهره چيانو هماراژدجگړو دوام دملت ديونيم مليون شهيدانودآرمان سره خيانت وباله اوژرترژره ئي دجگړو دبنديدوغوښتنه وكړه .

دبلغاريا دهيواد په وسلو اومهماتو يوه باروړونكى الوتكه دبگرام په هوايى آډه كى راكوزه شوه

كابل اداره اوس اوس دروسانو په مشوره وسلى اومهمات د وارسا دترون د پخوانيو غړو هيوادونو څخه ترلاسه كوي

پروان - دسلواغي ۹ مه :

دبلغاريانه يوه باروړونكي الوتكه چي په وسلواومهماتو باروه بگرام ته رسيدلي ده .

دتهران راديو درسالت دورځپاڼي په قول ويلي دي چې څوورځي وړاندي دبلغاريادهيوادیوه باروړونكي الوتكه چي ددغه هيوادنه ئي دكابل اداري لپاره وسلي اومهمات باركړي وو دومه ورځ دبگرام په هوايي اډه كي كوزه شوي ده .

دتهران راديوزياته كړه چې «دبلغاريا دغه په وسلواومهماتو بارالوتكه دقزاقستان هوائي حريم ته په داخليدوسره په دغه هيوادكي په زورسره كوزيدوته ارشوه اودلته تم كيدو وروسته دبگرام دهوائي ادي په لوري ورته دقزاقستان دمقاماتوڅخوانه دالوتني اجازه وركړي شوي ده .

دقزاقستان دولتي مقاماتو ددغي الوتكي دكوزيدو اصلي علت دمخكني اجازي له اخيستوپرته ددغه هيواد له فضايي حريم نه تيريدل بللي دي .

كابل اداري په تيروڅه كم څلورو كالوكي دخپلومخالفانو سره دجگړي ددوام په خاطردروسيي اوهغتنه پوځي مرستي ترلاسه كولي اواوس هم ددغو هيوادونوله خوانه ورسره پوځي مرستي دوام لري، څو له كله نه چي څو مياشتي دړاندي دروسانودتاتارستان دهوائي كمپني يوه په وسلو او مهماتو بارالوتكه چي د كابل اداري لپاره ئي باركړي وسلي اومهمات راوړل په كندهاركي دطالبانو له خوانه په زوركوزه او تر اوسه پوري دغه الوتكه اودهغې پيلوتان اوپروازي عمله دطالبانو

(٤)مخ

په كابل كى دوسله والوكسانوشمير دپخواپه پرتله مخ په زياتيدو دى

دكابل اداري ټول قطعات دتيارسى په حال كى دى

كابل - دسلواغي ۹ مه :

دپخواپه پرتله دكابل په ښاركي دوسله والو افرادوشميرمخ په زياتيدودي دكابل له ښارڅخه راغليوعيني شاهدانوشهادت ته وويل چي : په دي وروستيوورځوكي دكابل ښارپه بازارونو اوواټونوكي دوسله والو افرادوتگ راتگ زيات شوي دي اودكابل اداري دخپل تسلط لاندي نوروسيموڅخه زيات شميروسله وال كسان كابل ته راوستي دي.

عيني شاهدانوزياته كړه چې: تراوسه پوري نه ده معلومه چې كابل اداري نوي پوځيان دطالبانوپه سنگرونوباندي دنوي حملي دپيل كيدوپه مقصدپه كابل كي راټول كړي دي اوكه دطالبانوڅخوانه داحتمالي حملي دشنډولو په مقصد له بلي خواد كابل راډيو تيره شپه دخبري سرويس په ترڅ كي وويل چي : ستري

(٤)مخ

شهركابل هدف پرتاب بمب وراكت قرارگرفت

احتمال درگيري ميان اداره كابل وطالبان متصوراست

راكت باران ديروزيك كشته وسه مجروح برجاي گذاشت

كابل - ۹ دلو :

بعدازيك وقفه چند هفته اي ديروز باره‌ديگرشهركابل هدف بمباران هوايي وراكت باري اسلحه ثقيل قرارگرفته ،تلفات وخسارات جاني ومالي بارآورد.

گزارش رسيده ازكابل حاكيست ساعت ۳/٤٥ عصرديروز يك فروند طياره جنگي ميگ برفضاي كابل ظاهرشد وسه بمب را دراطراف قصرریاست جمهوري پرتاب كرد . اين بمباران كه بعدازيك ونيم ماه وقفه صورت گرفت به منازل مسكوني خساراتي وارد نمود اما تلفات انساني دربي نداشت .

براساس همين گزارش درجريان روز گذشته هفت راكت درمناطق مسكوني شهركابل برزمين نشست وعلاوه برخسارات مالي يكنفر كشته وسه مجروح برجاي گذاشت .

حملات اخير راكتي وهوايي بركابل درحالي صورت ميگيرد كه اداره كابل اعلان داشته كه درجريان ماه مبارك رمضان آتش بس يكطرفه را رعايت مي كند .

اين درحاليست كه تحركات نظامي درميان جنبش طالبان واداره كابل مشاهده مي شود و گفته ميشودكه اوضاع درحال آبستن حوادث ناگواراست،ولي معلوم نيست كه درحمله عليه جانب مقابل كدام طرف پيشقدم مي شود.

پاكستان شاهراه كويته - تركمنستان راترميم مينمايد

اسلام آباد - دلو :

حكومت پاكستان طي جلسه اي تصميم گرفته است كه شاهراه كويته، قندهار، هرات الي تركستان راترميم نمايد .

رسانه هاي خبري پاكستان گزارش دادند درجلسه كه به اشتراك مسوولين امور راه سازي ووزارت خارجه پاكستان تحت رياست نصيرالله بابربروزپنجشنبه دراين كشوردراسلام آباد داير گرديده بود فيصله بعمل آمدكه شاهراه قندهار، هرات الي تركمنستان ازطرف حكومت پاكستان ترميم گردد.

طبق گزارش كارترميم اين شاهراه بامساعدت فني واقتصادي اداره ملي راه سازي پاكستان و اشتراك انجنيران وكارگران افغان بتاريخ ۲۳ مارچ آغازميابد . گفته مي شود كه سرپرستي اين كاربه عهده مسوولين محلي طالبان درقندهاروهرات خواهد بود .

ورورحكمتيار دلغمان ولايت دقرغيودولسوالى دخلكو له استازو سره دكتلو په ترڅ كى :

دلغمان ولايت مومنو خلكو دجهاد په پيل كى پراخه اومهمه ونډه اخيستى ده

مهترلام بابا - دسلواغي ۹ مه :

دلغمان ولايت دقرغيو دولسوالي سپين ږيرو،قومي مشرانواوقوماندانانو له ورورحكمتيار سره وكتل .

دمهترلام بابا له ښارڅخه دشهادت خبريال خبرراكوي چي : پرون دروژي دمباركي مياشتي په نهمه ورځ له غرمي مخكي دلغمان دولايت دوالي استاد عبدالله «واحدي» په مشري دنوموري ولايت دقرغيو دولسوالي په لسگونو تنوسپين ږيرو، قومي مشرانو، روحانيونو اوقوماندانانو دورورحكمتيار سره وكتل . ددغي كتني په پيل كي دقرغيودولسوالي استازو ورورحكمتيارته دنوموري ولسوالي د اوسيدونكو نيكي هيلي وړاندي كړي، لغمان ولايت ته ئي دورور حكمتيار سفرنيك قدم وگاڼه اوهغه ته ئي ښه راغلاست ووايه .

وروسته دقرغيو د ولسوالي داستازو سره ورور حكمتيار دخپلو ارزښتناكو خبروپه ترڅ كي وويل :« حقيقت دادي چي دلغمان ولايت مومنوخلكودجهاد په پيل كي پراخه اومهمه ونډه اخستي ده

(٤)مخ

دبگرام په هوايي ډگركي ديوي مرمي دچاوديدو له امله دوه كسان ووژل شول

كابل - دسلواغي ۹ مه :

دبگرام دهوائي ډگر دامنيتي كمربند په يوه پوسته كي دهاوان ديوي مرمي دچاوديدوله امله دوه كسه مړه اويوكس سخت ژوبل شوي دي .

كابل اداري ته نژدي يوي باوري منبع پرون شهادت ته وويل چي څلورورځي وړاندي دبگرام دهوايي ډگرپه يوه امنيتي پوسته كي دهاوان ديوي مرمي دچاوديدوله امله دنظارشورا دوه پلويان ، زمري اوگلبازمړه اودپوستي قوماندان توريالي سخت ژوبل شو .

منبع وويل چي دامرمي د عيارولو په وخت كي چاوديدلي ده .

مذاكرات صلح تاجكستان درعشق آباد آغازشد

عشق آباد - ۹ دلو:

ديروز مذاكرات صلح تاجكستان در عشق آباد پايتخت تركمنستان باحضور ميانجي سازمان ملل متحد آغازشد.

طبق گزارش منابع خبري آقاي نظراوف به نماينده گي ازرژيم دوشنبه دراين مذاكرات شركت دارد . نامبرده در دستگاه رژيم فعلي دوشنبه بحيث وزيرخارجه ايفاي وظيفه مينمايد .

طبق گزارش زمانيكه نماينده گان هردوجانب وارد تالارمحل مذاكرات شدند سخنگوي مخالفان اظهارداشت كه اين مذاكرات زماني نتايج مثبت خواهد دادكه رژيم دوشنبه درمسئله تقسيم قدرت بامخالفان موانع ايجاد نكند امابالمقابل نماينده دوشنبه اظهارداشت كه لازم است بجاي اتخاذ موقف منفي بيشتر روي ايجاد صلح وسازش فكرشود .

درعين زمان بريماكوف وزيرخارجه روسيه پس ازسفرهايي به تاجكستان وازبكستان بدنبال اين اعلان يلتسن كه مسكوميتواند بعدازتاريخ ۳۰ ماه جون حكومت تاجكستان را ازلحاظ نظامي واقتصادي كمك كند درهمنوايي باوزيردفاع روسيه گفته است كه روسيه مجبور است حضور نظامي خودرا درتاجكستان حفظ كند . اعلان اين مطلب براي رژيم دوشنبه درشرايطي كه بامخالفان وارد مذاكره مي شود منفعت بخش ميباشد .

ازجانب ديگرميانجي سازمان ملل متحد نيز گفته است كه وي فكرميكند كه

ص (٤)

حكومت نايجريا دريك كودتاى نظامى سرنگون شد

نيامي - ۹ دلو :

ارتش نايجريا درنتيجه يك اقدام مسلحانه حكومت منتخب نايجرياراسقوط داده است .طبق گزارشات منابع خبري جهان ارتش نايجريابرهبري ابراهيم باري حكومت منتخب رئيس جمهورعثمان را سقوط داده وجنرال ابراهيم خود را رسماً رئيس جمهورمملكت اعلان كرده است.

گفته مي شود كه رئيس جمهور وصدراعظم اسبق آنكشور دستگير گرديده اند. باپيروزي نظاميان درنايجريا حالت فوق العاده اعلان وقيود رفت وآمد ازطرف شب دراكثرنقاط آن كشورنافذ گرديده است .قابل ياد آوريست كه درنتيجه اين اقدام نظامي دونفركشته شده اند.

هند عنقريب موشك طياره شكن را مورد آزمايش قرار مى دهد

دهلي جديد - ۹ دلو:

هندوستان درماه مارچ آينده سال جاري موشك طياره شكن ساخت خودش رابنام (ترشول) مورد آزمايش قرار ميدهد.

به گزارش منابع خبري پاكستان اين موشك كه اززمين به فضاپرتاب مي شود توسط كميته تحقيق وترقي وزارت دفاع هند ساخته شده است . گفته مي شود كه اين موشك ميتواند در ارتفاع (۹) كيلومتر هرنوع طياره بم افگن شكاري وجاسوسي رامورد حمله قراردهد وآنرا نابودسازد.

مطابق همين گزارش هندوستان باساختن اين موشك حداكثر ضروريات دفاعي فضايي خودرا رفع كرده است . خصوصيت بارزديگراين موشك اينست كه ميتواند راكت و موشك هاي جانب مقابل رادرهوايعني قبل از اصابت به هدفش درزمين ازبين ببرد .

اين موشك بعدازشناسائي طياره دشمن ظرف ٦ الي هشت ثانيه فيرميگردد.

دروغگوهستى ، دروغگوهستى

شعارهاى استقباليهٔ مردم امريكا ازخانم كلنتن

خانم كلنتن زمانيكه ازيك دادگاه درامريكاخارج شدباشعارهاي دروغگو، دروغگومورد استقبال قرارگرفت .

براساس گزارش آژانس فرانس پرس خانم هيلري كلنتن كه روزجمعه غرض پاسخ به سوالات هيئات منصفه وارد دادگاه شده بودپس ازانجام اين كارزماني كه وي ازدادگاه خارج مي شد،بااستقبال توهين آميز تعدادزياد مردم كه ميگفتند دروغگو هستي ،دروغگو هستي مواجه شد.

خانم هيلري كلنتن درقضيه بي بنام وايت واترمتهم به تقلب درخريداري چندجريب زمين است ومردم كه بيرون دادگاه شعارميدادند توضيحات اورانا كافي ودوراز حقيقت خوانده اند .

قرارسروي كه صورت گرفته (٤٠) فيصد مردم درمخالفت باخانم كلنتن نظرداده اند و ۳٦ فيصدمردم درحمايت ازوي كه طبق اين سروي مخالفين وي نظربه حاميانش بيشتراند.

عمليهٔ تبادلهٔ اسراء جنگي دربوسنيا هنوز مكمل نشده است

سرايبو - ۹ دلو:

سازمان صليب سرخ بين المللي گفته است كه عمليه تبادله اسراء جنگي دربوسنيا هنوزمكمل نشده است .

به اساس گزارش رسانه هاي خبري بين المللي دراين اظهارات سازمان صليب سرخ بين المللي گفته شده است كه هنوزهم بيش ازصدتن اسراء جنگي نزد هرسه جهت درگير دربوسنيا محبوس ميباشند، به اساس مفاد صلح نامه ديتون كه چندي قبل ميان جناحهاي درگيربوسنيا به امضاء رسيددرنظربودتاتاريخ (۱۹) جنوري تمام اسراء بين نيروهاي صرب، كروات و مسلمان بوسني تبادله گردند .

به اساس همين گزارش دوروز قبل درحدود (۱۵۰۰) تن ازاسراء تبادله شده اند امادرجمله اسراء باقيمانده (٦۳) تن بعنوان مجرمين جنگي نزد هرسه جناح درگيربوسني محبوس ميباشندكه اين حق را معاهده صلح ديتون به اين جناح هاداده است .

ازجانب ديگرحكومت بوسنيا صرب هاي بوسني رامتهم كرده است كه آنهاتاكنون اسراي محبوس نزد شان رارهانكرده اند اماصرب هاي بوسني گفته اند كه بكتعداد عساكرحكومت مسلمان

ص(٤)

از رفتن سياحان خارجى به درهٔ خيبر جلوگيرى مى گردد

علت آن اختطاف اتباع داخلى وخارجى درمنطقه خوانده شده است

پشاور - ۸ دلو :

ازسيروسياحت اتباع خارجي به منطقه سرحدي دره خيبرپشاورممانعت به عمل مي آيد .

يك مسئول امور سياحان خارجي درپشاورمي گويد ازمدت هشت ماه بدين سو، سياحت خارجيان به دره خيبرمتوقف شده است .

اين اقدام بخاطري صورت گرفته كه افرادقبايل آزاد اشخاص بلند رتبه حكومتي واتباع خارجي را اختطاف مي نمايند .

گفته مي شود تا بحال چندين نفرحكومتي درمنطقه مذكوربه گروگان گرفته شده و افراد قبايل دربدل آزادسازي آنها طالب حقوق خود ازجمله خود مختاري وشركت نماينده گان شان درمجلس پارلماني ايالت سرحد پاكستان مي باشند .

هم چنان يك تيم ورزشي انگلستان كه دراين اواخر مصروف بازي هاي ورزشي درپشاور بود، خواهان بازديد ازدره خيبر شد ،اما حكومت ايالت سرحد ، به تقاضاي آنان پاسخ منفي داده و از رفتن تيم مذكوربه آنجاممانعت نمود .

قطارتانك هاي سربازان روسيه عازم منطقه «سيمين هان» درشمال شرق بوسنيااست . قراراست (۱٦۰۰) نفرسربازان روسيه تحت قومانده "ناتو" در يوگوسلاوياي سابق جابجا شوند كه از جمله شماري از آنها درين منطقه مستقرميشود.

پدې ګڼه کې بې ولولې

* - سرمقاله (دوهم مخ)

* - دورورحكمتيارله تكبير اونيزى سره مركه (دوهم مخ)

* - اعلان (دوهم مخ)

* - زوم خو داسى وى (دريم مخ)

* - راغلى ليكونه (دريم مخ)

* - جهان ورزش (صفحه سوم)

بحمدالله شعاعت ... نبرد ...

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر : محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

طالبان څه وکړی؟

دطالبانوغورځنګ ترټولویدمخالف هم که انصاف ولري نودابه مني چې کومې سیمې اولوټې لاري چې ددې غورځنګ دافرادولاسونوته ورغلي، دعامه امنیت اومصوونیت په باره کې ئې لوي بدلون لیدلي، وضعه ئې ښه شوي اوپه دې باب دخلکورضایت حاصل شوي دي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې په ځینومهمو پرمختګونوکې لــه طالبانوسره دولس همدردي او پیوستون لوي نقش ولوباوه .

شاید له طالبانو سره دولس دهمدردې په موضوع کې دې هم تاثیردرلودلي وي چې طالبان زموږ په ټولنه کې یوددرناوي ور قشرپه توګه مطرح دي، خلک ورته په ټولنیزو جنجالونوکې له لړلتوب نه دپاکوکسانوپه عنوان ګوري او دتقوي په معیارونوئې ترنوروته په درنوختلوپاندې باورلري.

خوفکرکووچې اساسي عامل دانه و، ځکه «جهاد» زموږ په هیوادکې یونوي معیاروضع کړ، نوي منطق ئې واکمن کړ،نوي روحیه ئې ایجاد کړه اواساساً ئې د«افرادو» ،«قشرونو» او«جریانونو» په باب ئې دتحلیل اوقضاوت نوي زاویه خلاصه اورواج کړه .

زیاتره پخواني چوکاټونه مات شول، ذهنیتونه واوښتل، موقعیتونه اوپایګاوې تبدیلې شوې، زاړه سرحدونه اوپولې ونړیدې .

په دې معنې چې «جهاد» زموږدقوم ددرک ،قضاوت اودریځ لپاره بوښیادي معیارشواوڅوک چې پــه دې معیاردروند خوت، هغه ترټولو بهتروګڼل شو.

جهاد یعنې دخداي (ج) درضادګټلوهڅه ، دتقوي په لاردتلوتلاش، دالله (ج) دکلیمې دلوړولولپاره دسرګونوپه لوبوکې دوراڅکلوهاند، دځپل مظلوم ملت او مظلوم هیواد دژغورلولپاره دوینواوښـ دنذراني ګولو اراده. «مجاهد» یعنی هغه څوک چې په دې ټولو لوړو معیارونوپاندې دپوره ختلو په معراج ولاړو. مجاهد ټول هغه قالبونه مات کړي وچې دقضاوتونو لپاره دنسباوسمبولونوپه تــوګــه تردې وړاندې په ټولنه کې مطرح و، هغه ټولې پولې ئې نړولې وې چې تردې دمخه د«لېږښواوډېرښو» دصفونو دبیلولو لپاره مطرح وې .

څوک به چې ښه «مجاهد» و، هغه دولس په نظرترټولوغوره و، بیاپه دې پسې چانه کتل چې دامولوي دي، طالب دي، معلم دي ،افسردي، متعلم دي، انجنیردي، ډاکټردي، که خیاط ،ترکاڼ، اهنګر، دوکاندار، موټروان، باسواده دي یابې سواده اوغریب دي که شتمن .

له دې نه زموږمطلب دادي چې پــه افغانستان کــې نظریاتي او ټولنیزمسایل له قشري اوصنفي انحصارنــه ووتل . څوک چې دولس په ذهنیتونوکې د«مجاهد» په نامه یادشو، نوهغه له دې لوړشرچې « هویت ئې دچاتاپه وخوري اوپادې دچاشوي دولس په اذهانوکې دهغه شخصیت ترېوښتنولاندې راوستلاي شي .

زموږددې ټولو خبرو مقصد دادي چې طالبانوپه دې عنوان بري نه دې ترلاسه کړي چې ګنې دنورووه اسلامي هویت» اونظریات دولس ترشك لاندې واقع شوي اودوي ته ئې زړه ښه کړي. بلکې واقعیت دادي چې په زیاتروسیمو کې ولس دحاکموقوماندانانو لــه چــال چلن نه بېزاره شوي اوطالبان ئې خوښ کړي دي .

طالبانودامنیت اومصوونیت شعارورکړي اوعملاً ئې په ځینوبرخوکې همداښودلي . نودولس توجه وراوښتې ده .

دولس داخوښه اوتوجه دطالبانوله خبروسره نه ده بلکې له عمل سره ئې ده ، که دعمل په میدان کې طالبان نورڅه پیل کړي بیا به دخلکوراپه اودریځ بل وي .

داسې علامې څرګندې معلومیږي چې که طالبان جدي توجه ونکړي، هغه پېښې اوکره وړه به ترې تکراریږي چې له نوروڅخه کیدل .

په اوسنې ښه داوضاع پاتې کیدل، تربل هرچاطالبانوته لوي زیان لري ، په همدې وجه هغوي ته پکارده چې تربل هرچادوضعې په بدلیدواودبحران په حل کې په اخلاص او دلچسپي زیاروباسي. هغوي باید داهیره نکړي چې مسئولیت ئې بواځې دپاتکونو په لرې کولو اوخولاروپه مصئونولوکې نه خلاصه کیږي .

زموږملت په یوډردناک عذاب کې ګیردي ، داعذاب چې شیبه په شیبه ئې دفقراولوږې له لاسه فریادعرش ته رسیږي،لحظه په لحظه ئې خپلواکي ، عزت، اوخاوري ته دغرض اوشیطنت پردې لاسونه رااوږدیږي.

لحظه په لحظه ئې دشهامت ، اوکرداردقتل عام اوهولناکې بربادې لپاره دپردیو تاثیرات قوي کیږي طالبان ددې وضعې په پای ته رسولوکې لوي مسئولیت لري.

دادهغوي لپاره لوي ازموینت دي ، که په دې ازموینت کې بریالي نشي اوله نوروهغو قوتونو سره چې له اوسنې بدمرغه حالت نه دقوم اووطن دژغورنې په لټه کې دي، یوځاي اقدام ونکړي ، داسې اقدام چې واقعاً بحران پاي ته ورسوي، ترټولولوي تاوان به دوي کوي .

باید ټول هغه ځواکونه سره یو شي چې په هیواد کې دبهرني لاسوهنې مخالفت کوي

دحزب اسلامي افغانستان امیر وررور «حکمتیار» کله چې تیره اونې دیو لنډ سفرپه ترځ کې پاکستان ته راغلي و، نوپه پیښورکې ئې د پاکستان دمشهورې اونیزې «تکبیر» لــه خبریال سره مرکه کړې، چې دنوموړې اونیزې دجنورې د۲٦ مې نیټې په ګڼه کې خپره شوې، موږ ددې مرکې ژباړه درنولوستونکوته وړاندې کوو :

(اداره)

پوښتنه : انجنیرصــاحب ! پــه افغانستان کې به روانه جګړه کله پاې ته ورسیږي؟

ځواب : له تیرو اتلسوکلوڅخه زموږ مظلوم ملت دیوې تپل شوې جګړې په اورکې سوځي ،داجګړه روسانوپرموږتپلې وه، نن هم روسان ددې جګړې ترشادي، اودجګړې اورته لمن وهي، ځکه روسان غواړي پدې توګه زموږله ملت نه دځپلې ماتې بدل واخلي داجګړه به هغه وخت ختمیږي چې روس او د هغې ملګرې دافغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه بنده کړي . روسیې دامداخله په هغه وخت بندیږي چې یاخوهغه دځپلې کورنې وضعې لحاظ دنورو مداخلې توان له لاسه ورکړي ، یعنې په داخلي لحاظ هغه له ځیلوحالاتو څخه دومره مجبوره شي چې زموږ په چاروکې نوره لاس وهنه ونکړي، یاپه افغانستان کې ټول هغه تنظیمونه او

> دمذاکراتو لپاره زموږ څه شرایط دي، اوهغه داچې دټولو خواوو ترمینځ دمذاکراتوپه نتیجه کې باید یوعبوري حکومت ټینګ شي، اوواك باید دغه عبوري حکومت ته منتقل کړاي شي، له بهرڅخه هرډول مداخله بنده وي، اودسولې اوامنیت تر ټینګښت وروسته په مناسب فرصت کې دې انتخابات ترسره شي . چې ترهغې وروسته دې واك منتخب حکومت ته وسپارل شي.

ځواکونه په خپل مینځ کې سره متحد شي کوم چې پــه افغانستان کــې د بهرنې مداخلې مخالف دي. ځکــه زموږ ځپل مینځې اتحاد اووحدت روس زموږپه هیواد کې دمداخلې په نه کولو مجبوروي .

پوښتنه : دغــه ټول ګروپــونه او تنظیمونه به څوک متحد کړي !

ځواب : موږ دیوې داسې متحدې جبهې جوړولو تــه تیاریــو ، او هڅه هم کوو.

موږدهمدې سوج پربنیاد دهماهنګۍ شورا جوړه کړې، اواوس دهمدې سوج پربنیاد له طالبانوسره خبرې اترې کوو!

پوښتنه : د کابل اداري مشرربانې هم مذاکرات کوي، اوشاید له تاسې سره هم مذاکراتوته تیاروي، تاسې ولې له هغه سره خبرې اترې نه کوي؟

ځواب : موږدبحران حل غواړو، زموږ هیله داده چې په هیوادکې امنیت وي اوبوستحکم حکــومــت ټینګ وي، دکرکیچ دپاې ته رسیدو، دمسایلو دحل اودسولې دټینګښت په اوږند دمذاکراتو

> داجګړه به هغه وخت ختمیږي چې روس اودهغې ملګرې دافغانستان په کورنیو چاروکې لاس وهنه بنده کړي . روسیې دامداخله به هغه وخت بندیږي چې یاخوهغه دځپلې کورنې وضعې لحاظ دنورې مداخلې توان له لاسه ورکړي ، یعنې په داخلي لحاظ هغه له ځیلوحالاتو څخه دومره مجبوره شي چې زموږ پــه چاروکې نــوره لاس وهنه ونکړي، یاپه افغانستان کې ټول هغه تنظیمونه او ځواکونه پــه ځپل مینځ کې سره متحد شي کوم چې په افغانستان کې دبهرني مداخلې مخالف دي. ځکه زموږ ځپل مینځې اتحاد اووحدت روس زموږپه هیواد کې دمداخلې په نه کولو مجبوروي .

لپاره زموږ څه شرایط دي، اوهغه داچې دتولو خواوو ترمینځ دمذاکراتوپه نتیجه کې باید یوعبوري حکومت ټینګ شي، اوواك باید دغه عبوري حکومت ته منتقل کړاي شي، له بهرڅخه هرډول مداخله بنده وي، اودسولې او امنیت تــر ټینګښت وروسته په مناســب فرصــت کې دې انتخابات ترسره شي . چې تــر هغې وروسته دې واك منتخب حکومت ته وسپارل شي. خوداڤسوس خبره داده چې ځیني خلک دبهرني مرستې په وسیله اقتدارته رسیدل غواړي، اوځیني نوریبا دبهرني مرستې په وسیله په اقتدارکې پاتې کیدل غواړي . له همدې امله هغوي مذاکراتوته تیارندي، اوکه کله مذاکراتوته تیارهم شي نوبه اخلاص باندې نه وي بلکه مخالف لوري ته ددوکې ورکولو اودفرصت دترلاسه کولو لپاره وي.

ترکومه ځایه چې درباني لــه خوا دمذاکراتوخبره ده، نوهغه لــه هرچاسره دمذاکراتو خبره کوي اوهرلوري ته بیله ،بیله طرحه وړاندې کوي دمثال په توګه رباني محمودمستیري ته ویلي وو چې زه دواك پرېښودوته تیاریم خویدې شرط چې احمدشاه مسعود ددفاع دوزیرپه توګه په خپل ځاي پاتې شي . په همدې بنه یې موږته پیغام راولیږوچې زه استعفې ورکولوته تیاریم خو که دټولو ګروپونو یوعبوري حکومت دیوه بې طرفه جمهوررئیس پــه مشرې جوړشي او انتخابات ترسره شي. همدارنګه دابې طرفه جمهوررئیس بایدتنظیمونوله مشرانوڅخه نه وي په همدې وخت کې یې دملې جنبش مشرجنرال دوستم ته پیغام ولیږلو چې که هغه دجمهوررئیس په توګه درباني له پاتې کیدو سره توافق وکړي نوهغه ته به په دفاع وزارت کې مناسبه برخه اوپه شمالي افغانستان کې څــه آسانتیاوې ورکړي . بــل خــوا مولوي محمدیونس خالص اومولوي محمدنبي محمدي ته یې جدا، جدا پیغامونه ولــیږل ، چې دي (رباني) ددوي لپاره دجمهوري ریاست

پرېښودوته تیاردي . لکه چې ښکاري داټولې طرحې اوفورمولونه له یوبل سره تضادلري اوداسې ښکاري چې هغه (رباني) دمذاکراتوپه رابطه مخلص ندي ، هغه خپلو مخالفینوته دوکه ورکوي اوپدې توګه زیات مهلت ترلاسه کول غواړي .

پوښتنه : لــه طالبانو سره خبرې اترې کوم ځاي تــه ورسیدې ! تاسې یوځل پخواپه نصرت مینه کې دجمعې دلمانځه دخطبې په ترځ کې دطالبانو سره دمعاهدې دلاسلیك اومتفق کیدوخبره کړې وه، مګرسباته طالبانوهغه ردکړه . اوس وضعیت څه ډول دي ؟

ځواب : مادجمعې دلمانځه غونډې ته په ویناکې یوه خبره کړې وه چې له طالبانوسره زموږ معاهــده وشوه، هغه معاهده اوتوافق شوي وو، پرهغې باندې لاسلیك هم شوي وو، مګرپه رسمي بڼه نه وه اعلان شوې، اوس دشوراي هماهنګۍ اوطالبانوترمینځ مذاکرات روان دي، فضا دمذاکراتولپاره مساعده ده ، اوپدې لارکې دیرې ستونزې اومشکلات اوارشوي دي، اوهیله ده چې نورې ستونزې به هم زرهوارې شي ځکه اوس دواړه لورې پوهیږي چې دیوې متحدې جبهې جوړول ضروري دي، اوله هغې پرته امنیت نشي ټینګیداي ځکه نواوس داتوقع پیداشوي چې دامذاکرات به کامیاب وي اودیوې مثبتې معاهدې ترلاسلیك پورې به دوام وکړي .

پوښتنه : تاسې په افغانستان کې دروسیې دلاسوهنې خبره وکړه خوددهند مداخله موږکرنکړه، دهند مداخله څه ډول خبري؟

ځواب : ماوویل چې روسیه اودهغې پلویان . هندهم پــه پراخــه پیمانه دافغانستان په چاروکي لاس وهنه کوي، درباني اداري له پوځیانو له تداوې څخه نیولې دالوتکوترترمیم پورې داټول کارونه هند ترسره کوي پخواهم هــنــد دکابل دکمونست رژیم پلوي کوله . او اوس هم په څرګنده ډول درباني اداري پلوي کوي .

پوښتنه : د ایران دلاس وهنې او مداخلې وضعه څه ډول ده ؟

ځواب : ایران په رسمي توګه اعلان کړي چې درباني اداره بې دافغانستان دجایزاوقانوني حکومت په توګه په رسمیت پیژندلې . له همدې امله ده چې ایران

غواړي رباني په اقتدارکې پاتې شي اوداکوم اتهام ندي، بلکه په خپله دوي ددې مسئلې اعلان کړي او د رباني اداري داستحکام اوټینګښت لپــاره مرستې کوي. موږهیله لرو چې له ایران سره دې زموږ دوستې وي، اوهغه هیواد دې زموږدبحران دحل په رابطه مثبت رول اداکړي ، اوایران او افغانستان ولسونه دې له یوبل سره دورونوپه شان ژوند وکړي

پوښتنه : پدې رابطه دپاکستان سیاست څه ډول دي؟

ځواب : په پاکستان کې خوډوله سوچ اوفکرموجوددي ،یوسوچ اوفکردادي چې دافغانستان ټول تنظیمونه دې سره کښیني ،اویوپراخ بنسټه حکومت دې جوړکړي اودپاکستان حکومت دې دغه پراخ بنسټه حکومت په رسمیت وپیژني اودهغې ملاتړدې وکړي.

بوبل ګروپ پدې سوچ کې دي چې پخواني پاچاظاهرشاه دې راوستل شي اوپرکابل دې مسلط کړاي شي. دغه ګروپ پخوابرغفال و خواوس دومره فعال ندي . یوه حلقه داسې خلکوهم ده چې پرکابل باندې دیوې مخصوصې افغاني ولې حکمراني لیدل غواړي. اویوګروپ بیا داسې خلکودي چې پرکابل باندې دروسانواودهغوي دمرستندیو حکومت نه غواړي ، بلکه داسې یوه افغاني حکومت غوښتونکي دي چې له پاکستان سره دوست وي. اوپدې توګه دمختلفولورپوله خواپه مختلفویولاسوهنه روانه ده .

> مادجمعې دلمانځه غونډې ته په ویناکې یوه خبــره کړې وه چې له طالبانوسره زموږ معاهده وشوه، هغه معاهده اوتوافق شوې وو، پرهغې باندې لاسلیك هم شوي وو، مګرپه رسمي بڼه نه وه اعلان شوې.

پوښتنه : دلته دا اعتراض هــم کیږي چې دکابل اوسنې وضعیت ،دپاکستان دغلطو سیاستونوله وجې، خراب دي، آیا تاسې ګومــان کوئ چې پاکستان دمسئلې پــه حل کې کوم مثبت رول لوبولاي شواي یااوس یې لوبولاي شي ؟

ځواب : پــه هغه ورځوکې چې ډاکترنجیب استعفې کړې وه ، هغه وخت زموږ طرحه داوه چې یوعبوري حکومت دې جوړشي اوډاکترنجیب الله له خوادې قدرت دغه عبوري حکومت ته ورتسلیم شي، ډاکترنجیب هم لدې خبرې سره موافق شوي و، اودملګروملتونمایندګه «بنین سیوان » هم منلي وه . خوپه هغه وخت کې روس اوامریکا داپټیلې وه چې په افغانستان کې باید داسې مشرقدرت ترلاسه نکړي چې داکثریت درلودونکو سیموڅمایندګه وي . په تیره بیاپې هڅه درلوده چې حزب اسلامي افغانستان دافغانستان پــه رابطه دموثرکردارله ادا

کولونه لیرې وساتي . لــه همدې امله وو چې دکورنیو سیمه ایزو اونړیوالو عواملوپه نتیجه کې ،دپاکستان دهغه وخت حکومت (نوازشریف) حکومت دامریکااوروسیې لدې پلان سره توافق وکړ، اوپه کابل کې دنجیب داستعفې په صورت کې یوه عبوري حکومت ته دقدرت دانتقال پرځاي، هلته یوه ګوډاګ وشوه اوجګړې دوام وموند. پداسې حال کې

چې پاکستان هغه وخت ددې توان درلود چې دمسئلې پــه حــل کې مثبت رول ولوبوي، مګرهغه یې ونه لوباوه، اودا چې ددې تقصیرمسئولیت دچاپه غاړه راځي ددې تعــین او تشخیــص دلــه دپاکستانیانو کاردي.

پوښتنه : مګرکله چې دپیښوردن لاسلیك شو هغه وخت دمشې ... کرسې حزب اسلامي ته ورکړل شوه اوحزب اسلامي هــم یــو تاجك قوماندان (استاذفرید) دهغې لپاره وټاکه ،ددې دلیل څه و !

ځواب : هغه وخت دنړیوالو قوتونوله خوا دافغانستان دټوټه ټوټه کولوسازش جوړشوي و ، چې دهغې په ترځ کې دافغانستان داکثریت درلودونکي قوم «پښتنو» ســره د فارسي ژبو، تاجکو،ازبکواوهزارو ملیتونوجنګول وو، اوپدې توګه بې هلته په یوه نوې بڼه دافغانستان دحالاتوخرابول او دافغانستان ټوټې ټوټې کول غوښتل، ددې سازش اوتوطیې دناکامولو لــپاره موږ ځپل یو فارسي ژبي قوماندان وررور دصدراعظم په توګه تعین کړ اوپدې توګــه موقوم ته داپیغام ورکړ چې مسئله دپښتون اوتاجك نه بلکه داسلام او کمونیزم ده . موږ ټول په ځپل مینځ کې وروڼه یو اودښمنان به پرې ترږدو چې ځپل مذموم مقاصد ترلاسه کړي، اودالله (ج) په پسرپسر شکردې چې موږ په ځپل دې پروګرام کې بریالي شو.

پوښتنه : حزب اسلامي دبحران دحل په رابطه څه نقش لوبولای شي ؟

ځواب : په افغانستان کې اسلامي تحریك حزب اسلامي پیل کړ، دکمونیزم په لارکې خلق حزب اسلامي جوړشو. دکمونست رژیم پرخلاف لومړي ځل حزب اسلامي وکړي، حزب اسلامي دروس پرخــلاف جهاد پیل کړاودمقاومت دغورځنګ لارښوونه دحزب اسلامي مشرانوکړه . په راتلونکي کې به هم دافغانستان کرکیچ دحل په رابطه مهم اوپریکنده نقش حزب اسلامي لوبوي ، موږ دسولې اوامنیت خبرې کوو اوله همدې امله دمختلفو ګروپونو دمتحد کولو هڅه کوواوله ډیروخلکو سره موږدنظرتوافق ته رسیدلي یو.

(ژباړن : احمدضیاء «رحیمزی»)

اعلان

میوند

دا ډېرې ورځې په وحدت ورځپاڼه کې یو اعلان خپریږي :عامل تعویذات وعملیات . پدغه اعلان کې د ډېرو کړمو او دردونو ډېرآسان او ارزان علاج په نخښه شوي، پدې کې د ورك شوي د معلوماتو لپاره تعویذ ، دمحبت لپاره تعویذ، دکورنې بې اتفاقۍ دختمولو د پاره تعویذ، د نظر او روزګار لپاره تعویذ او داسې نورشامل دي .

عامل تعویذات وعملیات په ذمه واری دا اعلان کړی چې ددغو کړمو علاج به د تعویذ په واسطه کوی حتمی به یې کوی او په ذمه واری سره به یې کوی، په شخصی لحاظ به دغه کړمی او تکالیف ډېروته پېښې وی خو په مجموعې توګه دا یو ځوبې زموږ دولس او خلکو نه د ژوند ټول خوندونه لوټلي او له یوی مخې د ټول ملت د ردونه او کړاوونه ګرځیدلي دی .

زموږ له ولس نه سوله او امن ورك دی - نفرت اودښمنی پکی ځپل اوج ته رسیدلی - د بې اتفاقی له لاسه خوله نیستی۔اوتباهی سره مخامخ دی ددغه ورکی په لټون پسی دا شل کاله د ډېرو پایزار زاړه شول - که په عربو د دری ګوتو - پنځه ګوتواو اووګوتو اتحادونو څه دم ټوټکه و کړه هم څه نتیجه یې نشوای ورکولی اوکه به نوروڅه سحراوجادو وکړهم څه ځای یې نشوی نیولی له دری ګوتی نه واخله تر اوو ګوتی هیڅ یوهم ټینګ نه شو - کله چې خبره عبوري حکومتونو ته ورسیده هلته هم دهیچا دم او کف څه اثر ونکړاو دا دری کاله خو داسی طرحه - عملیه او پلان پاتی نه - چې رامخ ته نشو او بې نتیجې پاتی نشو .

نه د مولوی جلال الدین حقاني ، ډاکترفاروق اعظم داصلاحی شورا تعویذ ونو څه اثروکړای شوای اونه هم دننګرهار شورا چشم بند یو او دلاس چالاکیو دا

غوټه خلاصه کړی شوی - نه د ایران او پاکستان پارو ګرو د بې اتفاقیو اونفرتونو منګور او ده کړی شوای اونه د نړی د نورو هیوادونو مداریانو لدغه هګی څه چرګوړی راوایستل شوای .

نه اسلامی کنفرانس او حامدالغابد نه څه جوړ شول اونه هم دملګروملتونو او مستیری صاحب له ټکي پوکی نه څه

حال دویلولایق نه دی

راووتل .

مستیری صاحب خوداسی ښکاری چې خلل دماغ ورته پیداشوی دی چې دسیمی نه په یوه سفر کی څه وایی په بل سفر کی یې له یوی مخی نفی کړی . اویاهم په اصطلاح د خپلی د بو تی۔د اوږدو لو په غم کی دی او د افغانستان ډېره ورته د چکر لګولو یوه ښه او مناسبه پلمه ده چې په مفته کی په لاس ورغلی او په پردی لګښت د خپلی خوښی سیر اوسیاحت کوی او هرځل له ډېرو قیمتی تحفو -هدیو اوسوغاتونو سره ډکه غیږ ستنیږي دده خبری اوڅرګندونی متضادی دی - دکوټی په غونډه یوخوالو دیوه څه سپارښتنه وکړه خو ده بل څه اعلان کړل - دکوټی د غونډی ډېرو زیاتو لګښتونو او آوازو سره پراخی ... پاتی شو او دوخت له ضایع کول پرته نوی نه څه نه شول اونه څه سود ... بې طرفه او ملی اردو خبری یې هم هیڅ ... نه ... یوځل خوبی طالبانوته دهمدغسی پوځ اوقوت نوم ورکړ او اوس لګیا دی له طالبانو هم سرټکوي .

په ستاکهولم کې یې په استاد رباني پسې داسې څه وویل چې هیچاه نه ؤ ویلی خو اوس لکه چې استاد او مسعود خوشاله کړی وی بل څه وایی او په نوی حکومت کی د مسعود په ګډون کی هم څه ستونزی نه وینی دی کله ناکله له غیب نه هم خبری کوی او دمسعود په وزارت دفاع کی څه ستونزی نه وینی اوس وایی طالبان په زور کابل نشی نیولی ښایی خبروته کښنی خولدی ټولوسره بیاداهم وایی چې څه

مشخص پلان ورسره نشته او د قضیې له بېلابېلو اړخونوسره د خبرو او تفاهم له مخی به یوپلان او طرحه را منځ ته کړی .

له ښاغلی مستیری نه د ډیپلوماسی ته اوتوقع بیځایه ده ځکه خو له ده نه دسولې دراوستلو او زیری د حل هیله هم لدی نه زیاته بیځایه ده .

هغه افغانان چې ملګرو ملتونه او ښاغلی مستیری یې د زیری دعلاج مسیحاګانه اوټولی هیلی او امیدونه یې وریوری تړلی وو هم اوس د مستیری په ناکامي بوه شوله دی خو خبره دا ده چې مستیري له ناپوهي نه داسی کوی اوکه پوهیږی او قصداً یې ځان پدغه ناپوهي باندې وهلی دی . کــه دغه نخری د

مستیری ماموریت ته دی نو بیا خو بیله دی چې نوموړی عامل عملیات ته مراجعه وکړی بل حل یې نشی تصور کیدی ځکه ترکومه چې لیدل کیږی د مستیری هلی ځلی هم همدغسی عملیاتو ته ورته دی -کیدي شی دا غوټه هم ددغه ،عامل عملیات په عملیاتو پرانستل شی .

دا له امکان نه لیری نده چې ښاغلی مستیری د ډیپلوماسی په امتحانونو کی دنقل وهلو له لاری سند ترلاسه کړی وی اویاهم د داسی تصادفاتو او چانس له امله وی لکه د استاد ربانی په واکمنی کی چې کلیتران او انضباطان هم ډیپلوماتان شول دغو ټولو ته د عامل عملیات له

خلورم مخ



سرانجام کابل از اسلام آباد عذرخواهي کرد

زوم خوداسی وی

مغموم

زماني د بوی بلې حماسي شور اوروزته غورايښي دی -غرونه اورغونه لړيزي فضاتوروړلو خرو پرسراخستي له خمكې اوآسمان نه د اور او اوسپنې باران اوري - د برګيو هليكوپتر واتن دی - در زهار او دربهار فضا تسخير كړي او درانه غرونه غورونه خوروي - دمرګونو اوهيبتونو راج دی - مرګ اوري او له خمكې راخوټيږي -د كريږو او فرياد وتو په رنګې زرونه برسيږي - ته به وايې اوس به داغرونه رغونه ټول ايره ايره شي ټول به اور واخلي او ددغه وحشتناك پرغل تربې رحمه څپه لاندې به نيست شي - په كلي قيامت راګورشوی ، اوهرڅپه د مرګ په تورکومې کې ورننوزي ته به وايې دا به د روس او افغان د كومې معركې ياد وي - دهماغي حماسي بوننداره به وي - خو داسې نه ده -بوی خوانه همـاغه برګي هليكوپتر او حرخرتانګونه دی - همـاغه سره اردو له خپل ټول پوځي زور اوځواك سره وګرته راوتلې اوبل لوري ته !!!

بل لوري ته هم هماغه د تكبير ! وقيام كريږه ده چې د افغان له كومې به پورته كيدله ... هماغه چيغه ده خو چې د افغان په كومې کې دوځت د سازشونواو دسيسو په لاسونو چوپه شوه نو د چيچن د مبارزينو له كومې راووته .

هماغه ناره ده اوس د چيچنيا د اتلو بچيانوځوا بدرګه شويده ...

هليكوپتر وله پاسه اتن اچولی او د راكټونو به بته د «پيرومايسكې» به كلي مرګونه اوروي - توپونو اوټانكونو له خمكې نه په اوږخولي خلاص كړي -اوورنه شيندي -مرګونه شيندي - د وحشت مظاهره كوي -د روس امپراتوري له منځه تللې هيبت خلكونه وربه ياد وي او ناكامه هڅه كوي چې آزادي ايل كړي -او دقيام او پاڅون جذبې سرې كړي ... خو دهمدی اوورونو اولهبو په مينځ کې - دهمدی مرګونو اوزخمونو په تل کې زړه ځوانان كفنونه ترسرترلي !. په خپلو مورچلوکې د وروستۍ معرکې انتظار باسي - د دوی قايد اوقوماندان بو رسا زلمی دی - په تندو کې ئې د وير اوبرې خركوته لشي ليدی -په خبره کې ئې د پريشانی پرخای داوادو او تكلونو علامې او د لويو ارمانونو او سپيڅلو اهدافو نخښې ځليږي په سترګو کې بې له مرګونو سره د دغرو ارادي خان ښيي . ځوان په خبرخبر د مهاجم لښكر هوايي اوځمكني قوه ګوري خو لكه غر پرځپل ځای ناست دی . خپل مورچل ساتي -غواړي حماسه وزيږوي او خان د مظلومي چيچنيا دخپلواكۍ اتل او هيرو كړي .

اوبياهمداسي وشول غرونه رغونه همداپو توم اوري - ددی يوه نامه ازانګې راغبرګيږي اوپه ټوله نړی خوريږي . سليمان رداپوف ! د چيچنياد انقلابي ليډرجوهر دودايف زوم !

سليمان د معركې په تل کې پروت دی - د اور او اوسپنو باران ته ئې ټټر سپرکړی - دوينو او قربانيو پروګر ولاړدی ، ترټولو وړاندې دی ، ځكه چې هغه بايد وړاندې وي - له خپل اولس سره د وفا شرط خو همدا دی چې د قربانۍ پر ډګر به مخكې وي - سليمان ردايف خو دخپل

له تكبيره ترفرياده

اولس د ستر رهبر زوم دی - ځكه دهغه په اوږ و د مسئوليت پيټی تر نورو دروند دی - دی به دخپل اولس د پت اوعزت دفاع هم كوي او دخپل رهبر - پلاراوخسر دعزت او پت هم . او بالاخره ټوله نړی د غيرت دغه كارنامه اوري چې د يوه مظلوم اولس يو شمير غيرتي زامن ئې دروسي وحشت په وړاندې ترسره كوي د «پيرومايسكی» له كلي نه په سلګونو كيلومتره وړاندې د بوی سمځی په مينځ کی د چيچنيا ځوان زړور ليډرجوهر دودايف په برېتو لا س راكشوی د داغستان د حماسي خبر اوري - په شونډو ئې مرموزه موسكا راخپره شي - په خپلو مبارزو زامنو وياړي او د دوی په ځوان قوماندان هم چې دده زوم دی دهغه په مرموزه موسكا کې دا احساسيږی چې :

زوم خو داسې وی !

چې د قربانۍ پرډګر ترنورو وړاندې وی بياخوبی سل امتيازه په پيسو کی قربان شه ....

ځكه خود چيچنيا خه چې دنړی په ګوټ ګوټ کی هرهغه سرچې د كبر او جبر پټان نسكور غواړی سليمان ردايف ته په درناوی خم شي.

سليمان د يوه اتل زوم دی - خو پخپله هم اتل دی ،حق لري چې اتلولی ئې په نامه شي له خپل اولس سره د وفا په دود له مرګونو سره سترګې جنګولی شي - د چا په نامه دتجارت اوسياست بازارته تودوی - له بدن نه ئې د فرانسوی عطرو د ورمو پرځای د خولو او خاورو بوی خي .

په تن ئې د وروستی مادل قيمتی جامو پرځای دخپل وطن زيږی جامی دی . دقوم په غواړی خپله خانې نه پالي بلكې دخان پرقربانی د خپل قوم او اولس سرلوړی غواړی هغه دخپل رهبر اوليډر په نامه امتياز نه غواړی - دخپل اولس ، دقربانيو د ثمر اوحاصل غل نه دی - دمالي اعتبار او مادی ژوند دسمون هيله من نه دی د ناز اونعمت په بسترخوبونه تفريح ځايونو اوښكلو سواحلو اوپارکونو له سيل اوسياحت سره ناآشنا دی هغه ديو انقلابي ليډر زوم دی ، او دانقلاب په څپو کی له حوادثو سره اوږی را اوږی ... خان د دودايف دحماسووارث بولي نه د مادی اعتبار او امتياز! غواړی دحادثو ا وكيسو خاوندوی نه دمال او پيسو !

ځكه خو به تاريخ دغه توم د يوه اتل په نوم خوندی كوی چيچنيابه پاتی كيږی كه نه ! د آزادی ارمان به بی پوره كيږی كه نه خو دودايف او سليمان ردايف به نور د تاريخ په ټټر د انسان دعظمت اوشرف نوموته وی.

تاريخ به د زوم اوخسر نوری خاطری هم لری خو د دومره مثالی هماهنګی او ورته والی مثال بيايی ونه لری - سليمان ردايف غونډی زوم بوازی جوهر دودايف لری اوبس .

صدام حسين هم زوم درلود چې اوس په اردن کی پروت دی او دد ، پرخلاف ئې كودتا ته لاس اچولی ؤ ... او زومان نور رهبران هم لری - داسی زومان چې دوی په سنګر کی پرانه وی او زومان ئې دنړی ددبرو ښايسته سواحلو او تفريح ځايونو په سيل بوخت . پردوی د اور او اوسپنو باران وی خو زومان ئې دلبر ترو ړانګو لاندی د مستو تغمو په ازانګوكی خوبونه كوی د «قربانی» او «ايثار» تـر منځ ئې «امتياز» د خان امتياز بللی او داسی

زومان هم شته چې د خسر له ګوند حماسو او افتخاراتوسره د هغه د اولاد! معامله كوی ...

او داسی زمان هم چې ... !!!؟

خو :

لـه ويری حـال ويلی نـه شم دسوال باري ده اوس به ګده وده شپته

##

تیکواندوچیست ؟!

